DAILY ارادهٔ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۸۲۱

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ل

لسم کال - دویمه دوره، ۸۲۱ مه گڼه، پر له پسې ۱۸۸۸ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د چنگاښ ۱۶ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د رجب المرجب ۲۵ مه ۲۰۱۰ د جولای ۷ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د امریکا مرستیال ولسمشر:

افغان مشران دې په لوبه کې داخل شي

د امریکا د ولسمشر مرستیال جو بایدن دعراق د لیدنې په مهال ورمه ورځ په داسې حال کې چې په افغانستان کې یې د امریکا د پوځي ستراتیژۍ سخته دفاع وکړه، افغان مشران یې وهڅول چې د ده په وینا لوبه کې دې داخل شي. بلخوا جمهوري پلوي سناتور جان مکین د کابل د لیدنې پر مهال پر دې انتقاد کړی چې په دغې ستراتیژۍ کې ولې له افغانستان نه د امریکایي ځواکونو د وتلو لپاره نېټه ټاکل شوې ده.

په داسې حال کې چې د افغانستان د جنگ نهه کاله تېر پرې او د ولسمشر اوباما له فرمان سره سم لسگونه زره نوي سرتېري افغانستان ته **۳مخ**

افغانستان خط قرمز است، حتا برای شما



جمهوری خواهان به دردسر افتاده اند. ۱۶ ماه از روزی که به رأی امریکاییان، جمهوری خواهان کاخ سفید را به دموکرات ها تحویل دادند، می گذرد. جمهوری خواهان اما از همان نخستین روز حضور اوباما در مسند ریاست جمهوری، تلاش برای کنار زدن او در انتخابات آیندهٔ را اغاز کردند. در ۱۶ ماه گذشته، بارک اوباما تکان خورده است و جمهوری خواهان هر تکان او را به باد انتقاد گرفته اند. بارک از همان روزهای نخست افغانستان را اصلی ترین اولویت خود در دستگاه دیپلوماسی نام نهاد، جمهوری خواهان اما از این انتخاب دلخور هستند.

جنگ افغانستان با گذشت بیش از نه سال از روزی که جورج بوش بنا را بر حمله به این کشور گذاشت، هنوز سربازان امریکایی را سلاخی می کند. مایکل استیل رهبر جمهوری خواهان به واسطهٔ همین انتقادهای تند و تیز از اوباما و " جنگ اوباما " خواندن این نبرد، در یک قدمی استعفای اجباری قرار گرفته است. رهبر جمهوری خواهان اخیرا در اظهار نظری ادعا کرده بود که ایالات متحده نمی تواند، در این نبرد موفق شود. اظهارات رهبر جمهوری خواهان حتا در داخل این حزب نیز، شکاف هایی را به وجود آورده است. در داخل این حزب نیز کم نیستند کسانی که از سیاست سال ۲۰۰۱ میلادی کاخ سفید برای حمله به افغانستان حمایت می کنند و البته تعداد مخالفان سرازیر شدن مالیات امریکاییان به کابل نیز کم نیستند. بسیاری از جمهوری خواهان رهبر خود را به دادن گاف های سیاسی آن هم ص۳

د سوداگرۍ پېچلي قانون په هېواد کې د پانگونې مخه نیولې

د حرکت په نامه یوه موسسه چې په افغانستان کې د سوداگرۍ د ودې لپاره کارکوي وایي، چې لا هم په دې هېواد کې د سوداگرو پر وړاندې ډېرې ستونزې پرځای پاتې دي. د دغه ادارې مشر سید سلیمان فاطمي د سې شنبې پر ورځ په کابل کې خبریالانو ته افغان سوداگرو د امنیت، برېښنا، د سوداگرۍ ملکیت د نشتوالي او د مغلقو قوانینو په اړه ډېر شکایتونه کړي دي.

په داسې حال کې چې افغان دولت په هېواد کې د سوداگرو د ستونزو د هوارولو لپاره د خپلو اقداماتو خبره کوي، د حرکت په نامه د یوې موسسې چارواکي وایي، د افغان سوداگرو پر وړاندې پرتې ستونزې نه یوازې هوارې شوې نه دي، بلکې په ځینو مواردو کې لا زیاتې شوي.

د حرکت د موسسې مشر سلیمان فاطمي، چې په کابل کې یې په یوه خبري کنفرانس کې خبرې کولې، له افغان دولت نه وغوښتل چې د تېرو ځو کلونو دغو ستونزو په هوارې کې ژر تر ژره اقدامات وکړي.

د ښاغلي فاطمي پروینا په دوه زره اتم میلادي کال کې د نړیوال بانک په مرسته شوې سروې ښیي چې افغان سوداگر د امنیت او د برېښنا نشتوالی او د سوداگرۍ پېچلي قوانین هغه اساسي ستونزې دي چې په هېواد کې یې د پانگونې مخه نیولې.

ښاغلي فاطمي له افغان دولت څخه وغوښتل، چې د سوداگرۍ د برخې قوانین تعدیل او ساده کړي: "ولې د افغانستان قوانین اوس هم پېچلي دي، ولې دا قوانین په انگرېزي لیکل کېږي او په دري ژباړل کېږي، یو یو څه وایي او بل هم بل څه، ولې د دوی تر منځ همغږي نشته. یو قانون وایي، په یوه ځای کې دې ثبت شي او بل قانون وایي، په بل ځای کې، کله چې یو سوداگر غواړي یو شرکت پرانېزي، هغه مجبور دی چې په لسو ځایونو کې خپل شرکت ثبت او راجسټر کړي. ولې په یوه ځای کې هغه نه راجسټر کېږي.

او موږ په داسې یوه سیمه کې اوسېږو، چې په کې هند، پاکستان، چین او نور د منځنۍ اسیا هېوادونه له افغانستان سره په سیالۍ کې دي."

د حرکت موسسه چې پر دوه زره اتم میلادي کال کې یې په فعالیت پیل کړی دی، تر دوه زره پنځلسم کال **۳مخ**

مصالحه با گروه حقانی ممکن است؟

۲

افغان دولت ولې دا دومره موده غلی و؟

د افغانستان د ملي امنیت سلاکار له پاکستانه وغوښتل، چې د هغو سخت دریځو ډلو پرضد جدي گامونه واخلي، چې د پاکستان په خاوره کې له خوندي پناه ځایونو په افغانستان کې حملې کوي.

د ولسمشر کرزي د ملي امنیت سلاکار رنگین دادفر سپنتا دا څرگندونې یوه اونۍ وروسته له دې وکړې چې الجزیرې تلویزیون راپور ورکړ، چې د پاکستان په منځگړتوب د حقاني شبکې مشر سراج الدین حقاني په کابل کې له ولسمشر کرزي سره کتلي دي.

په وروستیو کې د افغانستان او پاکستان اړیکې ډېر نژدې شوي او افغان چارواکي د پخوا په شان نه پر پاکستان انتقادونه کوي او نه هم د پخوا په شان بیا بیا وایي چې د ترهگرو ځالې د پاکستان په خاوره کې دي.

خو سپنتا وویل چې افغانستان خورا ډېر شواهد او اسناد لري، چې پاکستاني چارواکو القاعده او نورو ترهگرو ډلو ته اجازه ورکړې چې د دغه هېواد له **۳مخ**

با کشته شدن ۳ سرباز ناتو

شمار تلفات نیروهای خارجی در سال ۲۰۱۰ در افغانستان به ۳۳۴ تن رسید

بر اثر انفجار چند ماین دست ساز در جنوب کشور، سه عسکر ناتو در این حادثه کشته شدند؛ بدین ترتیب، از آغاز سال ۲۰۱۰ شمار تلفات این نیروها به ۳۳۴ نفر افزایش یافت. به گزارش خبرگزاری فرانسه، با اینکه ۹ سال از جنگ افغانستان می گذرد، اما در سال جدید میلادی، شمار تلفات نیروهای خارجی حاضر در این کشور، روبه افزایش بوده و این تعداد در ۶ ماه نخست سال، بیش از ۳۰۰ تن اعلام شده است. این در حالی است که تنها ۵ سرباز ناتو در روز گذشته به دلیل حملات انفجاری در افغانستان کشته شدند. با این حال ملیت سه نظامی کشته شده یی که دیروز از سوی نیروهای برقرارکنندهٔ امنیت در افغانستان اعلام نشده است. بر اساس این گزارش، در ۱۲ ماه سال گذشته، شمار تلفات نیروهای خارجی در افغانستان ۵۲۱ نفر اعلام شده بود. اما در سال جدید به دلیل افزایش حملات از سوی طالبان این میزان رشد چشمگیری داشته است، با اینکه گفته می شود، ۱۴۲ هزار نظامی در این کشور وجود دارد.

روزنامهٔ بریتانیایی گاردین:

هزاران سرباز بازگشته از افغانستان به امراض روانی مبتلا هستند

این سربازان مرتکب جنایت‌هایی می‌شوند که به خاطر آن به زندان می‌افتند

یک روزنامهٔ بریتانیا اعلام کرد که هزاران تن از سربازانی که از جنگ‌های عراق و افغانستان بازگشته‌اند، دچار امراض روانی هستند. در این گزارش روزنامهٔ گاردین آمده است: این افراد به خاطر حضور در جنگ و دیدن شرایط آن دچار امراض روحی شده‌اند و در پی آن، مرتکب جنایت‌هایی می‌شوند که به خاطر آن به زندان می‌افتند.

در ادامهٔ این گزارش آمده است: همگان باید تلاش کنند، تا این افراد با شرایط زنده گی جدید خود هماهنگ شوند. این سربازان باید مداوا شوند، تا فشارهای روانی آنها کم شود و بتوانند خود را با شرایط جدید وفق دهند. این مسأله کمک می کند، تا پدیدهٔ سربازان مجرم کاهش پیدا کند.

چندی قبل نیز گزارشی منتشر شد که از افزایش تعداد سربازانی که پولیس در سراسر بریتانیا به خاطر ارتکاب جرم آنها را دستگیر کرده، خبر داد.

در گزارش گاردین آمده است: باید به صورت ویژه به مسألهٔ استفاده از مشروبات الکولی و مواد مخدر توجه شود و پولیس کاملا رفتار این سربازان را زیر نظر بگیرد و چنانکه لازم شود، آنها را نزد داکتر متخصص بفرستد.

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د افغانستان موضوع او د سپینې ماڼۍ د چارواکو نوې ناندرې

له افغانستان څخه د سرتېرو د شاتګ لپاره د مهالوېش ټاکنه، د اوباما په دولت کې پر یوه بله لانجمنه موضوع باندې بدله شوې ده. خو د امریکا یو شمېر چارواکي د ولسمشر اوباما دغه پرېکړه غیرمعقوله او له وخت څخه مخکې پرېکړه بولي.

د امریکا د دولت په دننه کې دې ته ورته د نورو ستونزو د شتون ترڅنګ، په افغانستان کې د امریکا د ځواکونو د عمومي قوماندان جنرال مک کریستال ګوښه کېدنه او د هغه پر ځای د جنرال ډیویډ پترایوس تقرر، هغه څه دي، چې دمګړۍ یې د امریکا دولت له نورو داخلي ننګونو سره مخ کړی.

بارک اوباما چې د امریکا د ولسمشرۍ په ټاکنو کې وکولای شول، چې له افغانستان او عراق څخه د امریکایي سرتېرو د ایستلو د شعار په ورکولو بریالی شي او خپل جمهوري غوښتونکی سیال مک کین ته ماتې ورکړي، اوس له بریا پرته له افغانستان څخه د بهرنیو سرتېرو له وتلو سره موافقه نه لري او ټینګار لري، که په افغانستان کې بریا ترلاسه نه شي، نو د امریکا او د هغه د ټلوالې پوځونه به بیا هم په افغانستان کې پاتې شي. دا په داسې حال کې ده، چې اوباما همدارنګه له افغانستان څخه د سرتېرو د ایستلو لپاره د ټاکلي مهالوېش د ټاکلو خبره هم کوي، خو د ده دغه څرګندونې، د ده د دولت د یو شمېر لوړ پوړو چارواکو له مخالفت سره مخ شوي او همدا راز د امریکا د دواړو ګوندونو (دیموکراتانو او جمهوري غوښتونکو) مشران هم د اوباما له دغې طرحې سره همغږي نه لري. د امریکا په دواړو ګوندونو کې ځینې ستې او کړۍ د اوباما دغه څرګندونې، غیرمعقولې او له وخته دمخه او داسې پرېکړه یې بولي، چې د عقلانیت اړخ یې کمرنګ او کمزوری برېښي.

په هر حال، د پورتنیو خبرو او انګېرونو په پام کې نیولو سره، داسې ښکاري، چې د افغانستان موضوع او د افغانستان ستر پوځي او ملکي ماموریت د امریکا په دولت کې هم درزونه راټوکولي دي، لکه څرنګه چې لیدل کېږي، دغه موضوع دمګړۍ د اوباما دولت لپاره د یوې سترې ننګونې په توګه هره شېبه د سپینې ماڼۍ او د امریکا د ستراتېژیستانو په لابراتوارونو څېړل کېږي او د هرې ناستې، سیمینار او کنفرانس د خبرو او بحثونو محور جوړوي، خو داسې څرګندېږي، چې بیا هم د هرې ورځې په تېرېدو سره دغه کړکېچ لا ژور او پېچلی کېږي. دا چې وروستۍ پرېکړه او پایله به په دې اړه څه او څرنګه وي، دا هغه پوښتنه ده، چې په واشنګټن کې د راتلونکو ورځو سیاسي تحولات او بدلونونه به ورته ځواب ووایي.

مصالحه با گروه حقانی ممکن است؟

میرصادقی

دیدار کرزی با سراج الدین حقانی، پسر مولوی جلال الدین حقانی سر کردهٔ یکی از گروه های جهادی در این اواخر در رسانه ها بازتاب وسیع و سروصدای گستردهٔ را به وجود آورده است. با اینکه سخنگوی رییس جمهور طی یک کنفرانس مطبوعاتی این دیدار را رد کرده و می گوید که کرزی با سراج الدین حقانی دیداری نداشته است. مگر بسیاری به این باور اند که کرزی با رییس آی. اس. آی و لوی درستیز پاکستان دیدار داشته، اما اینکه این دیدارها چگونه یکباره در رسانه های داخلی و خارجی راه پیدا نموده، مردم افغانستان این باور را کرده اند که این دیدارها صورت گرفته است. روزی که گفته شد، اشفاق کیانی و شجاع پاچا مخفیانه به کابل آمدند و در ارگ با رییس جمهور دیدار کردند، چند تن از اراکین دولت، این ملاقات را تایید نموده، مگر تاکید داشته اند که نام شان افشا نشود. چون این دیدار بسیار حساس و بحث برانگیز می باشد و مطمیناً که از سوی مقام های امنیتی افغانستان تدارک دیده شده و تلاش صورت گرفته، تا در همان پنهانکاری امنیتی باقی بماند. چون این دید و بازدیدها توام با تغییراتی که در رهبری امنیت ملی به میان آمده، صورت گرفته، نشان می دهد که امرالله صالح در این مدت، مانع چنین دیدارهایی با پاکستان بوده و حال چنین زمینه یی مساعد گردیده است. اما این دیدار موازی با این تغییر به خاطری نا ممکن نیست که بعد از اعلان و تاکید کرزی بر مصالحه با مخالفان، مقام های پاکستانی نیز، اعلان کردند که در این راه با کرزی همکاری می کنند و لذا نتیجهٔ عملی آن می تواند، این دیدار و گفتگوهای عملی باشد.

در میان جنگجویانی که با دولت افغانستان می جنگند، چهار چهار طیف مختلف جنگی وجود دارد که تماماً در مورد بیرون راندن نیروهای خارجی از افغانستان نظر واحد دارند، اما شدت برخورد هر یک در این مورد فرق می کند. القاعده که متهم به زدن برج های مرکز تجارت امریکا در نیویارک در یازدهٔ سپتمبر می باشد و از نظر مالی و آموزش نظامی و کمک های تسلیحاتی برای طالبان، کشمیری ها، طالبان پاکستانی، گروه های تاجکی، چیچنی، آیغوری و عرب به عنوان سازمان مادر یاد می شود و در بسیاری از کشورهای اسلامی و غیراسلامی شاخه های آن فعال می باشد و دوتن از رهبران آن، اسامه بن لادن و ایمن اظواهری به مشهورترین و مخوفترین افراد ضد غرب در جهان مبدل شده اند، نه تنها زمینهٔ مصالحه با دولت افغانستان را ندارد، بلکه چیزی جز سرنگونی دولت های کافر را نمی شناسد. اسامه حین امیرالمومنین شدن ملا محمدعمر در قندهار، به او بیعت کرد و گفته می شود که ملا محمدعمر با این بیعت خود را مکلف می داند، تا به هر شکلی از او حمایت کند و تا حال گاهی از این موضع عقب ننشسته است. نیروی ۲۶هزار نفری القاعده در وزیرستان که از دو سال به اینسو زیر ضربات سخت طیاره های بدون سرنشین امریکا و نظامیان پاکستانی قرار دارد، تلفات سنگینی متحمل شده است. القاعده از یکسال به اینسو بیشتر نیروهای خود را از وزیرستان به یکی از مناطق مهم و استراتیژیک جهان که یمن است، انتقال داده و اینکه چرا وزیرستان این بستر مناسب را خالی کرده، تا حال روشن نیست و دلایل بسیاری وجود دارد که دو رهبر اصلی القاعده در مرز میان افغانستان و پاکستان زنده گی دارند. سازمان سیای امریکا اخیرا گفته است که این رهبران طراز اول القاعده بیشتر نزدیکان شان را از دست داده، مخصوصا که اخیراً ابوایوب المصری و ابوعمر البغدادی در شهر موصل به وسیلهٔ امریکاییان به قتل رسیدند، اثر جدی بر القاعده به جا گذاشت. هیچ دلیلی دیده نمی شود که القاعده در شرایط کنونی با دولت افغانستان و یا امریکاییان مصالحه کند. دولت افغانستان حتا گفته است، با طالبانی که با القاعده در ارتباط اند، مذاکره نمی کند. حزب اسلامی گلبدین که بیشتر آرزوی مذاکره و مصالحه با دولت افغانستان و امریکاییان را دارد. بخش بزرگی از این حزب همین اکنون با کرزی در یک دولت قرار نشسته. اما خود گلبدین و حواریون او تا حال به دولت نپیوسته و در میان افغانستان و پاکستان سرگردان اند و تا حال چند بار به دولت مراجعه کرده و مسایلی را مطرح نموده که از سوی دولت افغانستان و امریکاییان جدی گرفته نشده است. شاخهٔ نظامی این حزب در حالی که درچند منطقهٔ محدود با نیروهای دولتی و امریکایی می جنگد، زیر فشار طالبان نیز قرار دارد و در کندز و وردک توسط طالبان رانده شده و حامی اصلی آن، که پاکستان است نیز، حال به این حزب چندان نظری ندارد، لذا مصالحهٔ ص۳

د کابل نړیوال کنفرانس، هیلې او پرېکړې

شریف الله خوستی

کابل په نژدې راتلونکي کې د یوې نړیوالې غونډې کوربه دی. په دې غونډه کې به، چې مشري او کوربه توب یې د افغانستان پرغاړه دی، د ۵۰ هېوادونو او تر دېرشو د ډېرو نړیوالو سازمانونو استازیګډون کوي.

افغان حکومت په دې نړیواله غونډه کې د افغانستان د پراختیا په اړه یوه بشپړه طرح وړاندې کوي او دا به په اثبات رسوي، چې په هېواد کې ډېر پرمختګ شوی او د لا پرمختګ او انکشاف په خاطر افغانستان ددې وړتیا لري، چې نورې نړیوالې مرستې او همکارۍ ترلاسه کړي. غونډه به له افغانستان سره د مرستو، له ترهګرۍ سره په مبارزه کې د سیمه ییزې همکارۍ، د بیا رغونې لپاره د اقتصادي مرستو او په هېواد کې د سولې ټینګښت په خاطر د ولسمشر د هلوځلو د ملاتړ په برخه کې توافقات کوي او دا هڅه به کېږي، چې نړیواله ټولنه په درېیو راتلونکو کلونو کې له افغانستان سره له ۱۳ تر ۱۴ میلیاردو ډالرو پورې مرستې وکړي. د کابل نړیوال کنفرانس د جوړاوي د مسوولانو په وینا، که چېرې دغه مرستې افغانستان ته ورکړل شي، په ملکي برخو کې به ولګول شي. د دوی په وینا، له بده مرغه د افغانستان په اړه په کور دننه او بهر یو منفي تصویر وړاندې کېږي، خو د افغانستان حکومت په بېلابېلو برخو کې ډېرې سترې لاسته راوړنې لري، چې هېرې شوې دي.

د کابل نړیوال کنفرانس به د افغانستان د خصوصي سکتور استازو ته دا فرصت ورکړي، چې په ملي او نړیواله کچه خپلې ستونزې او اړتیاوې مطرح کړي. ددغه کنفرانس یو مهم هدف به اقتصادي وده او د افغانستان د خصوصي سکتور د بېلابېلو برخو پیاوړتیا وي. دغسې دغه هیله هم شته، چې کنفرانس د پانګونې ودې او د ملي اقتصاد په لاره کې د خصوصي برخې تقویې ته زمینه برابره کړي.

د افغانستان پانګوال او سوداګر په ملي او نړیواله کچه لهګښو ستونزو او ننګونو سره مخامخ دي. دوی به په دغه کنفرانس کې د افغانستان د حکومت په مرسته د خپلو وړتیاوو د لوړولو او ستونزو د ورکاوي لپاره وړاندیزونه او طرحې وړاندې کوي او نړیواله ټولنه او مرستدوی هېوادونه به یې پر حل لارو غور کوي. د کابل کنفرانس د لندن د نړیوال کنفرانس بشپړوونکی بلل کېږي. د لندن تر کنفرانس وروسته افغانستان او نړیواله ټولنه یوه نوي تړون او توافق ته سره ورسېدل او پر همدغه بنسټ به د افغانستان حکومت د خپلو خلکو پر وړاندې خپلې ژمنې روښانه کوي او نړیواله ټولنه به هم دې ته متوجه کېږي، چې د امنیت ټینګښت، دفاع، ښې حکومتوالۍ، ملي پخلاینې او سیمه ییزو او نړیوالو همکاریو په برخه کې خپلې ژمنې په ډاګه کړي. د لندن د کنفرانس په بیانیه کې ۳۴ مادې وې، چې پر پنځو اساسي موضوعاتو، اقتصادي پراختیا، امنیت، سیمه ییزو همکاریو، له نشه یي توکو او اداري فساد سره پر مبارزه او د قانون پر حاکمیت ټینګار کوي. دغه پنځه موضوعات، چې نور فرعي او اړوند مسایل لکه د افغان امنیتي ځواکونو پیاوړتیا او هغوی ته د امنیتي مسوولیتونو انتقال، د افغانستان بودیجې ته د مرستو لېږد، ملي پخلاینه، د سولې جرګه او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې مخنیوی هم په کې شامل دي، د لندن په کنفرانس کې د افغانستان د پلاوي د بحث او تمرکز اصلي ټکي وو. افغان امنیتي ځواکونه همدا اوس هغه پړاو ته رسېدلي، چې پخپله پوځي عملیات پلان او رهبري کړي او پخپله د هېواد له پولو او ملیګټو دفاع وکړي. د ملي دفاع وزارت د چارواکو په وینا، په هېواد کې روان ۶۰ په سلو کې پوځي عملیات پخپله افغان ملي اردو او د افغانستان نور امنیتي ځواکونه پرمخ بیایي، چې دا د افغانستان د ځاني دفاع د پیاوړتیا او په خپلو پښو د افغان امنیتي ځواکونو د درېدو په برخه کې یو ښه زېری دی. په دې توګه افغان امنیتي ځواکونه ددې جوګه کېدای شي، چې په راتلونکو پنځو کلونو کې امنیتي چارې خپله پرغاړه واخلي او د هغو نیوکو او تبلیغاتو مخه هم ونیول شي، چې په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو پر حضور کېږي.

ښه حکومتوالي او له اداري فساد سره مبارزه د افغانستان د حکومت په لومړیتوبونو کې شمېرل کېږي. ولسمشر حامد کرزي تل په خپلو ویناوو کې پر دې ټینګار کړی، چې په ادارو کې سالم کسان پر کار وګومارل شي او د اداري فساد، چې په ټوله کې د حکومت او نړیوالې ټولنې د بدنامۍ لاملګرځي، مخه ونیول شي. د افرادو د ګومارنې په برخه کې د ولسمشر نوی فرمان د حکومت د جدي توب ښکارندویي کوي. ولسمشر د امریکا تر سفر مخکې په یوه فرمان کې جګپوړي دولتي چارواکي له دې منع کړل، چې په کلیدي پوستونو کې خپل خپلوان او نژدې دوستان وګوماري. ددغه فرمان پر بنسټ، له اداري فساد سره د مبارزې ستراتیژۍ پر تطبیق د څار عالي اداره مکلفهګڼل شوې، چې په دولتي ادارو کې په جګپوړو کسانو پورې د تړلو کسانو د ګومارنې مخه ونیسي.

دغسې له فساد سره د مبارزې د ځانګړو ادارو جوړېدل او هغو ته واک او صلاحیت ورکول ددې ښکارندوی دي، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت ۳مخ

افغان مشران دې په لوبه کې...

روان شوي دي. دغه جګړه اوس يوې حساسې مرحلې ته داخل شوې ده.

د امريکا د ولسمشر په دې پرېکړه چې په افغانستان کې يې د ځواکونو د شمېرد زياتوالي تر څنګ دا فيصله هم کړې ده چې د راتلونکي کال په جولای کې به امريکايي عسکر له افغانستان څخه وتل پيلوي انتقادونه شوي دي.

انتقاد کوونکي وايي، وسلوال مخالفان کېدای شي د ځواکونو د زياتوالي په مقابل کې جنګ وځنډوي او څنګه چې دغه قواوې وتل پيل کړي دوی دې بيا ميدان ته را ودانګي.

خو د امريکا د ولسمشر مرستيال وويل، چې ولسمشر باراک اوباما روغه ستراتيژي غوره کړې، دغه ستراتيژي مسوولیتونه افغان ولسمشرحامد کرزي ته ور په غاړه کوي، چې د اداري فساد مخه ونيسي او خپل پوليس او اردو وروزي. جوبايډن د امريکا د خپلواکۍ د ورځې په مناسبت له عراق څخه د ليدنې پر مهال له افغان مشرانو وغوښتل، چې دده په وينا په لوبه کې داخل شي. ده وويل، چې موږ د تل لپاره په افغانستان کې نه پاتې کېږو او داسې نه شي کېدای چې موږ به نسبت افغان مشرانو ته د دوی د هېواد امنيت ته ډېر لېواله اوسو.

د امريکا د ولسمشر مرستيال جوبايډن دغه څرګندونې د ام، اس، ان بې، سي ټلويزيوني شبکې ته يوه ورځ وروسته له دې وکړې چې جنرال ډيويډ پيتريوس په افغانستان کې د امريکايي او ناټو ځواکونو قوماندانی رسما پر غاړه واخيسته. په افغانستان کې د امريکايي او ناټو ځواکونو پخوانی قوماندان جنرال مک کريسټال وروسته له دې له دندې لرې کړای شو، چې له يوې امريکايي مجلې سره يې په مرکه د امريکا ملکي مشرانو پسې سپکې سپورې ويلې وې.

د جنرال مک کريسټال دغو خبرو داسې يوه انطباع رامنځ ته کړه، چې ګويا امريکايي ملکي او پوځي مشران د افغانستان د جګړې په اړه سره اختلافات لري. خو د امريکا د ولسمشر مرستيال ورمه ورځ ټينګاروکړ، چې ولسمشر اوباما او د ده جنرال سره متحد دي. ده وويل، چې د ولسمشر ستراتيژي د جنرال پيتريوس ستراتيژي ده او دا د دفاع وزارت ستراتيژي او يوه متحده ستراتيژي ده. بلخوا مخکښ جمهور پلوي سناتور جان مکين د يکشنبې پر ورځ په کابل کې ای، بې، سي ټلويزيوني شبکې سره په مرکه کې انتقاد وکړ، چې ولسمشر اوباما ولې له افغانستانه د امريکايي ځواکونو د وتلو نېټه ټاکلې ده.

د ازادي راډيو د راپور پر بنسټ، جان مکين چې د ويتنام په جنګ کې يې هم برخه اخيستې وويل، چې زه په جنګ ښه پوهېږم، که چېرې ته دښمن ته د خپلو وتلو نېټه وټاکې، نو بې له شکه چې هغه ستا تر وتلو انتظار باسي.

د سوداګرۍ پېچلي قانون په...

پورې به افغان سوداګرو ته د سوداګرۍ د زمينې د برابرولو په برخه کې فعاليت وکړي. بل پلو د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو وزارت چارواکي مني، چې د سوداګرۍ موجود قوانين ستونزې لري.

د دغه وزارت ويانډ احمد فرهاد افغانزوی ازادۍ راډيو ته وويل، د سوداګرۍ او صنايعو نوی وزير په پلان کې لري، چې د دغو قوانينو د اصلاح لپاره په نژدې راتلونکې کې اقدامات وکړي. افغان سوداګر تل داسې شکايت کوي، چې امنيتي ستونزې او د سوداګرۍ په برخه کې مغلق قوانين دوی ته اجازه نه ورکوي چې خپله سوداګرۍ وغوړوي.

دوي په وار وار د خپلو ستونزو د هواري لپاره پر امنيتي ارګانونو سربېره له ولسي جرګې څخه د قوانينو په برخه کې د پرتو ستونزو د حل غوښتنه کړې ده.

افغان دولت ولې دا دومره...

خاورې څخه په افغانستان کې عمليات وکړي. ده دا هم وويل چې افغانستان په ځلونو پاکستان ته اسناد او شواهد ښوولي دي. سپنتا زياته کړه: «پاکستان په قبايلي سيمو کې د دا ډول تروريستي ډلو پرضد اقدام نه کوي، خو د تروريستي ضد ايتلاف د يوه غړي په توګه زما تمه دا ده، چې پاکستان له نهو کلونو وروسته د تروريزم پرضد جدي ګامونه واخلي.»

سپنتا همداراز وويل: «دوی بايد د تروريستي ډلو مشران راوسپاري، بايد د هغو کسانو لېست موږ ته راکړي، چې دوی نيولي دي او اوس په پاکستان کې بنديان دي. موږ شواهد لرو چې له پاکستانه هره ورځ تروريستان راځي او زموږ پر خلکو او نړيوالو ځواکونو بريدونه کوي. سخت دريځې ډلې په پاکستان کې فعالې دي. زموږ له پولو ورهاخوا اډې او پناه ځايونه لري او دا يوه جدي ستونزه ده. بايد د دې چاره وشي»

په وروستيو کې د پاکستان پوځي مشرانو کابل ته تګ راتګ زيات کړی او ويل کېږي چې په همدې ارتباط يې له ولسمشر کرزي او نورو افغان چارواکو سره خبرې کړي. سپنتا هم د هغوی سفرونو ته اشاره وکړه او ويې ويل چې دا د ښه نيت سفرونه دي او دی هيله لري، چې دوی به د کابل يا اسلام اباد په راتلونکې غونډه (ممکن راتلونکې مياشت) کې رغنده او مثبې خبرې اترې پيل کړي.

ده په عين حال کې پاکستان په دې کې ناکام وباله، چې د القاعده، د کوټې د شورا، د حقاني شبکې، د حکمتيار د ډلې او همداراز د ازبکو او چيچنيايي ډلو پرضد اقدام وکړي. سپنتا وويل: «دا خبره پټه نه ده چې تروريستي ډلې په پاکستان کې پناه ځايونه لري، د روزنې مرکزونه لري، له هماغه ځايه افغانستان ته د راتلو لپاره امکانات لري. دلته راځي، حملې کوي او بېرته پاکستان ته ځي.»

سپنتا دا خبره رد کړه چې ګڼې سراج الدين حقاني د پاکستان په منځګړتوب له ولسمشر کرزي سره ليدلي. د تاند د راپور له مخې، څرګنده نه ده چې سپنتا دا څرګندونې په اوس وخت کې ولې کړې چې په ظاهره د کابل او اسلام اباد اړيکې تر بل هروخت ښه شوي. د افغانستان د بهرنيو چارو وزير تازه له پاکستانه راستون شوی او پاکستاني پوځي چارواکو د کابل سفرونه زيات کړي دي.

ولسمشر کرزي په وروستيو کې هلې ځلې پيل کړي، چې له طالبانو سره خبرې وکړي. دی له دې سره سره هڅه کوي، چې طالبان په خپل حکومت کې شريک کړي، چې د ده پر حکومت واکمنه د شمال پخواني ټلواله له طالبانو سره د پخلاينې مخالفت کوي.

مصالحه با گروه حقانی...

دولت افغانستان با آن هیچ مشکلی ندارد. اما اینکه رهبر این حزب به کابل بیاید و با دولت همکاری کند، بسیار بعید به نظر می رسد؛ زیرا او در این ۳۰ سال فقط یک بار برای چند روز به کابل آمد و با رقابت هایی که در درون گروه های قوی مسلح قرار داشته و قتل های وسیعی که در گذشته توسط این حزب و یا به نام آن توسط آی. اس. آی در پشاور صورت گرفته، آمدن او را به کابل مشکل ساخته و بعید به نظر می رسد که به جان خطر کند. کرزی و امریکاییان نیز به آمدن رهبر حزب اسلامی چندان توجهی ندارند؛ زیرا اکثر صفوف و کادرهای آنرا با خود دارند و بازوی مسلح آن هم زیر فشار طالبان تا آخر نخواهند توانست به جنگ ادامه دهند، زیرا یک بار طالبان زور خود را به آن نشان داده است.

بدنهٔ اصلی طالبان،که زیر رهبری ملا محمدعمر و شورای کویته قرار دارد، تا حال چراغ سبزی به دولت افغانستان نشان نداده و بر مواضع گذشتهٔ خود تاکید دارند، اما اخیراً گفته شده که این شورا به حضور درازمدت برخی از نیروهای امریکایی در افغانستان موافقت نشان داده، مگر سخنگویان آن تاکید دارند که برای مصالحه با دولت افغانستان چیزی کمتر از خروج نیروهای خارجی از افغانستان را نمی خواهند. به نظر می رسد که آی. اس. آی نیز، نمی خواهد تا این جریان به زودی با دولت افغانستان متحد شود و تلاش دارد، تا آنرا برای مدت دیگری در مقابله با دولت و مخالفت با امریکاییان نگهدارد. اما نفوذ و قدرت این جریان در بعضی مناطق کاهش یافته است، مخصوصا که با در گرفتن جنگ در شمال نیروهای آن تا حدی پراکنده شده. این بخش دومین انتخاب برای مصالحه خواهد بود و کمک پاکستان به این جریان تا زمانی ادامه خواهد داشت که سرنوشت خط دیورند روشن شود. چیزی که پاکستان به دنبال رسمیت آن از سوی دولت افغانستان و جامعهٔ جهانی می باشد. این را امریکاییان و اروپایی ها می خواهند، اما چون امریکا نمی خواهد که به زودی جنگ در افغانستان ختم شود، لذا این نیرو برای بعد نگهداشته می شود. گروپ حقانی که در سه ولایت جنوبی پکتیا، پکتیکا و خوست نفوذ قوی دارد و مقر آن از دوران جهاد تا حال در وزیرستان است و تاثیراتی در شرق افغانستان نیز داشته و مورد حمایت مستقیم عربستان سعودی و پاکستان و کمتر زیر تاثیر القاعده قرار دارد و بیشتر صبغهٔ جهادی دارد، از امکانات پولی بالایی برخوردار می باشد و انتحاری های بیشتری را در اختیار دارد. با نزدیک شدن این جریان به دولت با اینکه در تقویت موقعیت دولت اثر گذار است، اما غایله پایان نمی پذیرد و جنگ بازهم ادامه می یابد. اینکه جریان حقانی با نزدیک شدن با دولت، قانون اساسی را خواهد پذیرفت و یا شرایط خود را مطرح خواهد کرد، در آینده دیده شود. با نزدیکی این گروه به دولت، میان خود طالبان دو دسته گی ایجاد خواهد شد، تا جایی که ممکن است، میان شان جنگ آغاز شود. این تنش ها در سه ولایتی که ذکر شد، بیشتر خواهد بود و وزیرستان نیز با این درگیری ها به رویارویی خطرناکی مواجه خواهد شد. پیوستن گروپ سراج الدین حقانی با هر شرایطی به مصالحهٔ کنونی برای کرزی برگ برنده یی به حساب خواهد آمد و پاکستان نیز با این اتحاد می تواند، در افغانستان اعمال نفوذ بیشتری کند و امریکاییان هم در گسترهٔ مهمی از سرحد میان افغانستان و پاکستان نفس راحت خواهند کشید و این در روزگار کنونی برای اعضای ناتو که برخی در حال فرار از افغانستان اند، تا حدی دوباره روحیه داده و از فشار مردم اروپا بر دولت های شان مقداری کاسته خواهد شد.

افغانستان خط قرمز است...

در روزهای بحرانی پیش از انتخابات نومبر متهم می کنند. استیل هفتهٔ گذشته در سخنرانی در ایالت کنتیکوت به ریاست جمهوری بارک اوباما به شدت حمله کرد. با وجود آنکه همگان نبرد افغانستان را میوهٔ نارس ریاست جمهوری بوش می دانند، رهبر جمهوری خواهان ترجیح داد، بار این ناکامی را بر دوش بارک اوباما بگذارد. رهبر جمهوری خواهان در این سخنرانی گفت: بارک اوباما اولویت اصلی خود را افغانستان می داند و این در حالی است که نسخهٔ عراق را برای این کشور می پیچد. اوباما حتا این موضوع را نمی داند که نباید در جنگ زمینی با افغان ها همراه شود؟ اظهارات رهبر جمهوری خواهان به اندازه یی تند و تیز بود که جان مک کین که در جریان انتخابات اخیر رقیب بارک بود نیز، تصریح کرد که مایکل نمی تواند، بیش از این رهبری این حزب را عهده دار باشد. جمهوری خواهان از رهبر خود خواسته اند که به دلیل اظهارات توهین آمیز خود از سربازان امریکایی حاضر در افغانستان عذرخواهی کند. لیندسی گراهام از دیگر جمهوری خواهان عضو کمیتهٔ دفاع سنا با انتقاد از رهبر جمهوری خواهان گفت: منصف باشیم. این اظهارات نه عاقلانه بود و نه عادلانه. نبرد افغانستان در حقیقت جنگ بارک اوباما نیست، جنگ تمام امریکاییان است. ما باید چه در جامهٔ دموکرات و چه جمهوری خواه در این جنگ پشت سر رییس جمهور بیاستیم.

استیل درست در روزی که بارک اوباما سوگند ریاست جمهوری خورد، به عنوان رهبر جمهوری خواهان آغاز به کار کرد و در ۱۶ ماه گذشته بارها با اظهارات خود مدافعان حفظ منافع ملی را خشمگین کرده است.

سارا معصومی

په پکتیا کې د ازادو رسنیو مرکز پرانېستل شو

د پکتیا په مرکز ګردېز ښار کې د چنګاښ پر ۱۵مه، د پکتیا پریس کلب په نامه د ازادو رسنیو مرکز پرانېستل شو.

د دې رسنیز مرکز مشر احسان الله مهجور په پرانېستونکې غونډه کې وويل، چې وروسته له دې به د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د لاره کې د رسنیو ستونزې راکمې شي. رسمي سرچينې به له دغه مرکز سره معلومات شريکوي او بيا به د رسنيو استازي له مرکز څخه معلومات ترلاسه کوي. دغه مرکز به د مهجور په وينا، ډېر ژر په کمپيوټرونو او انټرنټ سمبال شي او هم به غږيز، انځوريز او ويډيوي ارشيف ولري.

په پرانېستونکې غونډه کې د پکتيا والي جمعه خان همدرد ژمنه وکړه، چې له مرکز سره به ترخپله وسه مرسته او همکاري وکړي. والي دا هم وويل، چې پخوا به هر خبريال رسمي سرچينو ته د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زنګونه وهل او کله ناکله به معلومات غلط اخيستل کېدل، خو هغه زياته کړه، چې د مرکز په فعاليت به دغه ستونزې هوارې شي. د پژواک د راپور له مخې، په پکتيا کې دا مهال د ازادو رسنيو نژدې ۱۵ څانګې فعاليت کوي.

د کابل نړيوال کنفرانس...

له اداري درغليو سره د مبارزې په برخه کې ژمن او جدي دی. له اداري فساد سره د مبارزې ستراتيژۍ پر تطبيق د څار عالي اداره د ورکړل شوي اجرايي صلاحيت له مخې دا واک لري، چې پر لويې څارنوالۍ د اداري فساد ددوسيو د څېړلو په برخه کې فشار راوړي. دغسې ټولې دولتي ادارې بايد خپل پلانونه له يادې شوې ادارې سره شريک کړي او وزارتونه مکلف دي، چې له اداري فساد سره د مبارزې خپل شپږ مياشتني او کلني پلانونه له اداري فساد سره د مبارزې ستراتيژۍ پر تطبيق د څار عالي اداري ته وسپاري. د ولسمشر د فرمان له مخې، هېڅ وزير، مرستيال، معيين، د خپلواکو ادارو رييسان، د ملي شورا غړي او سفيران نه شي کولای په مهمو پوستونو لکه، مستوفيتونو، ترانسپورټي ادارو او ګمرکاتو کې له وړتيا په پام کې نيولو پرته خپل ملګري او دوستان پر دندو وګوماري.

له اداري فساد سره د مبارزې ستراتيژۍ پر تطبيق د څار عالي اداري د مرستيال محمد قسيم لودين په وينا، له اداري فساد سره د مبارزې په تړاو ددوی شته طرحې به د کابل په نړيوال کنفرانس کې وړاندې شي.

د افغانستان حکومت په لندن کنفرانس کې دخپلې طرحې د تطبيق په برخه کې د ملي پخلاينې او سيمه ييزې همکارۍ موضوع هم جدي نيولې ده. ګاونډيو هېوادونو ته د ولسمشر حامد کرزي سفرونه ښيي، چې افغانستان په سيمه ييزه او نړيواله دواړو کچو غواړي د ترهګرۍ اوسنۍ څپې له منځه لاړې شي. د ملي پخلاينې او سوله ييز حل په برخه کې د سولې ملي مشورتي جرګې جوړېدل يو رغندهګام و، چې له وسلوالو مخالفانو سره يې د خبرو اترو لپاره پر يوهګډ ميکانيزم موافقه وښوده. دغه ميکانيزم به د کابل په نړيوال کنفرانس کې د سيمه ييز او نړيوال ملاتړ لپاره وړاندې کېږي. په همدې توګه د افغانستان بودجې ته د مرستو لېږد د افغانستان د حکومت يوه مهمه غوښتنه ده، چې د چارو د ښې والي، ښې حکومتوالۍ او د اداري فساد د ورکاوي په برخه کې رغنده تمامېدای شي. همدا اوس ډېری مرستې پخپله مرستندوی هېوادونه لګوي، په داسې حال کې، چې افغان حکومت تر هرچا ډېر دا ظرفيت لري، چې مرستې پر سمو او وړ ځايونو ولګوي. که څه هم د لندن کنفرانس برخه والو، په ځانګړې توګه امريکا منلې، چې خپلې ۵۰٪ مرستې به د افغانستان د بودیجې له لارې مصرفوي، خو دا، چې د کابل په کنفرانس کې د نورو مرستو تمه کېږي، نور مرستندويان هم بايد دې چمتو کړای شي، چې خپلې مرستې د افغانستان د بودیجې له لارې مصرف کړي. که داسې وشي، د بيا رغونې پر بهير به د خلکو اعتبار ډېر شي او مرستې به هم دا ارتياوو او وړتياوو له تشخيص سره سمې، پر سمو او مناسبو ځايونو ولګېږي.

دغه ټول هغه موضوعات دي، چې د کابل په نړيوال کنفرانس کې پرې خبرې کېدای شي، ځکه د چارواکو په وينا، دغه کنفرانس د لندن کنفرانس مکمل يا بشپړوونکی دی. افغان حکومت او ولس دغه کنفرانس ته ډېرې هيلې لري او تمه ده. دغه کنفرانس د افغانستان په سياسي، اقتصادي او بلاخره امنيتي پرمختګ او پراختيا کې رغنده رول ولوبوي.

حذف نام برخی اعضای...

ثابت کند که ۱۵عضو سابق طالبان، تروریزم را محکوم می‌کنند و دیگر در خشونت‌ها برای براندازی دولت نقشی ندارند. به نوشتهٔ این نشریه، تلاش‌های افغانستان برای حذف نام برخی اعضای طالبان از فهرست سیاه با مانع تراشی‌های روسیه مواجه شده است. روسیه معتقد است، دولت افغانستان مدارک و شواهد لازم و مستدل برای حذف نام طالبان از این فهرست ارایه نداده است.

با وجود موضع سرسختانهٔ روسیه در این مقوله، مقام های امریکایی و افغان امیدوار اند، روسیه که در ماه جنوری با حذف نام پنج تن از مقام های سابق طالبان از فهرست سیاه موافقت کرده بود، با حذف نام برخی دیگر از اعضای طالبان نیز موافقت کند و با این اقدام، به سایر جنگجویان طالبان اعلام دارد که می‌توانند، از اقدامات و تمهیدات سازمان ملل علیه خود رهایی یابند.

به گفتهٔ مقام های شورای امنیت، بررسی حذف نام ملا محمدعمر رهبر طالبان و سایر جنگجویانی که اکنون در ایجاد ناآرامی‌ها در افغانستان نقش دارند، مدنظر قرار ندارد. تلاش‌های کرزی برای حذف نام اعضای طالبان از فهرست سیاه در حالی صورت می گیرد که وی به دنبال برقرار صلح و آشتی با طالبان تا پیش از زمان برگزاری کنفرانس کابل در ۲۰ جولای جاری با هدف حمایت از برقراری ثبات در افغانستان است.

مبارزه با تروریزم در پاکستان و اهداف حزب مسلم لیگ نواز

احمد فراهانی



بعد از وقوع حملات انتحاری در لاهور پاکستان که ۵۰ کشته و ۱۷۰ زخمی در پی داشت، احزاب مردم (حزب حاکم) و مسلم لیگ نواز بعد از فروکش کردن تنش لفظی ناشی از این حادثهٔ تروریستی، به ایده‌های مشترکی در خصوص مبارزه با گروه‌های تروریستی، دست یافته اند.

موافقت یوسف رضا گیلانی صدراعظم پاکستان با طرح محمد نواز شریف رهبر حزب مسلم لیگ نواز برای برگزاری اجلاس سراسری یی برای یافتن راه حل مشترک برای ریشه کن کردن گروه‌های تروریستی نشان داد که فعالیت‌های گروه‌های شبه نظامی مخالف دولت، با اشکال جدیدی تشدید شده است.

نوازشریف در خصوص مبارزه با تروریزم تصریح کرده است که دولت پاکستان نباید با طرح‌های واشنگتن، با مشکلاتش مقابله کند.

وی در اظهاراتی مهم و مغایر با سیاست‌های جاری دولت گیلانی تاکید کرده است، دولت باید با طالبان میانه رو گفتگو کند.

شریف همچنین با اشاره با طرح حزبش برای برگزاری اجلاس سراسری مقابله با تروریزم افزوده است: این نشست سراسری می‌تواند، پنجرهٔ جدیدی برای مقابلهٔ همه جانبهٔ دولت برای مبارزه با گروه‌های تروریستی بگشاید.

به نظر می‌رسد، با فروکش کردن تنش‌های لفظی بین وزارت داخلهٔ دولت فدرال و دولت ایالتی پنجاب دربارهٔ حادثهٔ حملات اخیر لاهور، اظهارات و مواضع جدید نوازشریف با سه هدف عمده مطرح شده است:

۱. کاهش فشار بر حزب مسلم لیگ نواز: طی سه ماه گذشته، اختلاف‌های حزب مردم و حزب مسلم لیگ در موضوعات مختلفی به اوج رسیده بود و حملات انتحاری لاهور نیز، انتقاد از شهباز شریف وزیراعلای دولت ایالتی پنجاب را تشدید کرد. به طور طبیعی حزب مسلم لیگ برای رهایی از فشارهای سنگین اتهام‌های افکار عمومی و دولت رهبران حزب مردم، در اولین فرصت مدیریت حل اختلاف با حزب حاکم را در اختیار خود گرفت تا بتواند، به عنوان حزب مدعی با دولتمردان گفتگو کند.

البته نواز شریف می‌داند که گفتگو با طالبان پیامدهای ویژه‌یی خواهد داشت و به طور قطع با واکنش منفی امریکاییان مواجه می‌شود و بی‌دلیل نیست که در اظهارات اخیر خود عنوان کرده دولت اسلام آباد نباید در انتظار طرح ها و دستورهای امریکا باشد، بنابراین، رهبر مسلم لیگ نواز در اولین اقدام حزب مردم را بر سر دو راهی قرار داده است.

از یک سو بر همکاری کامل حزبش با حزب مردم تاکید کرده است و دوم بهانه را از حزب مردم گرفته و این حزب نمی‌تواند، در آینده از این موضوع چشم پوشی کند.

۲. نکتهٔ مهم دیگر اتهام فراهم کردن فرصت فعالیت برای طالبان پنجابی از سوی دولت ایالتی پنجاب است که حزب مردم همواره بر آن تاکید کرده و معتقد است، دولت ایالتی پنجاب در خوشبینانه‌ترین حالت از برخورد با طالبان پنجابی ناتوان است.

البته دیدگاه‌های بدبینانهٔ دیگری نیز، وجود دارد؛ مبنی بر اینکه، حزب نوازشریف و دولت ایالتی پنجاب برای ناتوان معرفی کردن دولت فدرال در برقراری امنیت، به عمد از برخورد با گروه‌های شبه نظامی شانه خالی می‌کنند.

حزب مسلم لیگ نواز همواره این اتهام را رد کرده و در مقابل حزب مردم را به تلاش برای بدنام کردن آن حزب متهم می‌کند.

بنابراین، طرح جدید نواز شریف می‌تواند، آنها را از این اتهام تبریه کند و مسلم لیگ نواز را به عنوان پیشگام مبارزه با گروه‌های تروریستی معرفی کند.

۳. طرح اجلاس سراسری مبارزه با تروریزم به طور طبیعی نقش نوازشریف را بار دیگر در صحنهٔ سیاسی پاکستان فعال خواهد کرد و وی می‌تواند، در نقطهٔ قابل اطمینانی بایستد و از برقراری صلح و ثبات امنیتی در این کشور سخن بگوید و البته خود را برای پذیرش نقش‌های بعدی در صحنهٔ سیاسی آماده کند.

به نظر می‌رسد، تحولات بعدی حوزهٔ سیاست داخلی پاکستان نشان خواهد داد که نوازشریف برای آینده چه برنامه‌هایی دارد و آیا در اظهارات خود برای مبارزهٔ جدی با تروریزم صادق و جدی است، یا اینکه تلاش دارد، از این مسیر حزب مردم را به سمت ضعف هدایت کند.

حزب مردم نیز، با پذیرش پیشنهادهای نوازشریف که محور آن گفتگو با طالبان است، در مسیری پیچیده قرار گرفته و معلوم نیست، با شکل‌گیری تضادهای استراتیژیک در نحوهٔ برخورد با طالبان محلی - جنگ به عنوان خواستهٔ امریکا و مصالحه به عنوان طرح مسلم لیگ نواز- چگونه عمل خواهد کرد.

حذف نام برخی اعضای طالبان از لست سیاه در دست است

نمایندهٔ ویژهٔ امریکا در امور افغانستان و پاکستان درصدد است، اعضای شورای امنیت سازمان ملل -به ویژه روسیه- را به حذف نام برخی اعضای سابق طالبان از فهرست سیاه این سازمان متقاعد کند.

به نوشته نشریهٔ امریکایی فارین پالیسی، یکی از مقام های ارشد سازمان ملل گفت، ریچارد هولبروک دیروز برای کمک به روند مذاکرات افغانستان و حذف نام اعضای منتخب طالبان از فهرست سیاه سازمان ملل، به نیویارک سفر کرد.

هولبروک در حالی تصمیم به دیدار از نیویارک گرفت که حامد کرزی رییس جمهور افغانستان، هفتهٔ پیش، در اقدامی که از آن به عنوان نخستین گام در راستای متقاعد کردن طالبان به پایان دادن به ناآرامی‌ها و آغاز مذاکرات صلح با دولت یاد شده است، از شورای امنیت سازمان ملل خواسته بود، نام گروه طالبان را از فهرست افراد و گروه‌هایی مشمول تحریم‌های مالی و تردد، حذف کند.

به گفتهٔ دیپلوماتان شورای امنیت سازمان ملل، انتظار می‌رود، کرزی با ارایهٔ مدارکی به کمیتهٔ تحریم شورای امنیت ص۳

ماده‌ٔ ششم:
اعلامیهٔ جهانی حقوق بشر
هر کس حق دارد که شخصیت حقوقی او در همه جا به عنوان یک انسان در مقابل قانون شناخته شود.
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمد"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com